یــونامــا
په افغانستان کې د ملګرو ملتونو دمرستندویه پلاوي دفتر
دستراتیژیکو اړیکو دفتر
مطبوعاتی اعلامیه
www.unamanews.org/pashto

**افغانستان: د ۲۰۱۶ کال په لومړۍ نیمایي کې د ملکي تلفاتوکچه په بیساري**

**ډول لوړې کچې ته رسیدلی ــ د ملګروملتونو رپوټ**

**کابل، د ۲۰۱۶ کال د جولای ۲۵مه** - د ملګروملتونو رپوټ، چې د دوشنبې په ورځ خپور شو ښیي چې د روان کا ل په لومړیو شپږو میاشتو کې ۵،۱۶۶ تنه ملکیان وژل شوي او ټپیان شویدي. له ۲۰۰۹ کال راهیسې چې یوناما د ملکي تلفاتو ثبتول پیل کړیدي دا شمیره د ملکي تلفاتو ترټولو لوړه کچه ده، چې یو په دریمه یې ماشومان دي. د ۲۰۰۹ کال د جنورۍ له لومړۍ نیټې څخه، چې ملګرو ملتونو د ملکي تلفاتوثبتول پیل کړیدي د ۲۰۱۶ کال د جون تر ۳۰ مې نیټې پورې ټول ټال ۶۳،۹۳۴ تنو ملکیانو ته مرګ ژوبله اوښتې، چې ۲۲،۹۴۱ تنه یې وژل شوي او ۴۰،۹۹۳ تنه نورپکې ټپیان شویدي.

د روان کال د جنورۍ له لومړۍ د جون میاشتې تر پایه پورې، په افغانستان کې د ملګرو ملتونودمرستندویه پلاوي (یوناما) د بشري حقونو څانګې د ۱۶۰۱ تنو وژنه او د ۳۵۶۵ تنه نورو ټپي کیدنه ثبت کړیده. دملکي تلفاتو داکچه د ۲۰۱۵ کال د لومړیو شپږو میاشتو پرتله څلور په سلو کې زیاتوالی ښیي. په دې توګه دا له ۲۰۰۹ کال راهیسې د شپږمیاشتنیو دورو په ترڅ کې د ملکي تلفاتو تر ټولو لوړه کچه ده .

د سږکال په ملکي تلفاتو کې ۱۵۰۹ تنه ماشومان هم شامل دي (۳۸۸ تنه مړینه او ۱۱۲۱ ټپیان) – چې د ملګرو ملتونو د بشري حقونو مشرهغه " ویرونکی او د شرم وړ" شمیره بولي، چې دا له ۲۰۰۹ کال راهیسې د شپږو میاشتو په موده کې د ماشومانوتر ټولو ډیرتلفات دي .

په دې لړ کې ۵۰۷ میرمنو ته هم تلفات اوښتي دي (۱۳۰ وژل شوي او ۳۷۷ ټپیان شوي دي). د میتودولوژی یعنې د د شمیرو د جمع کولو د تحلیل د ډول محدودیتونو او د پېښو د قربانیانو د جنسیت د تشخیص په برخه کې محدودیتونو ته په کتو سره، ویلی شوچې د میرمنو تلفات قطعا په مکمل ډول نه دي رپوټ شوي.

دافغانستان لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي او د یوناما مشر تدامیچي یاماموتو ټینګار وکړ، چې دغه رپوټ په حقیقت کې د جګړې ټولو ښکیلو غاړو ته یوه غوښتنه حسابیږي، چې" له جګړې د ملکي وګړو د خوندیتوب لپاره ټول تر لاس لاندې امکانات وکاروي ."

د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي وویل : "په دغه رپوټ کې هره مستنده شوې ملکي مرګ ژوبله د بیلګې په توګه که هغه د عبادت ، کار، زده کړو، د اوبو راوړلو او په روغتونونو کې د درملنې پرمهال وژل شوي او یا ټپیان شوي وي ددې ښوودنه کوي، چې ټول په خپلو ژمنو کې پاتې راغلي دي، او دا رپوټ باید د جګړې ټولو ښکیلو غاړو ته یوه غوښتنه وبلل شي، چې د ملکي تلفاتو د کمولو او ملکیانو د خوندیتب لپاره لازم ګامونه پورته کړي." هغه زیاته کړه: " هغه شعارونه چې اړین ګامونه له ځانه سره ونه لري کافي نه دي. د افغانستان خلک او تاریخ به په جګړه کې د ټولو ښکیلو غاړو د سلوک په اړه قضاوت وکړي".

د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د څانګې مشرزید رعدالحسین وویل: " د قربانیانو او د هغوی د کورنیو څرګندونې ددغو ۶۳،۹۳۴ وژل شویو او ټپیانو غمونکی او خواشینونکی کیسې دي، چې په دغه اوږده جګړه کې له ۲۰۰۹ کال راهیسې اغیزمن شویدي". هغه وویل: "هغو کورنیو چې د ډوډۍ ګټونکی یې له لاسه ورکړی مجبوره شویدي، چې خپل ماشومان له ښوونځي بهر کړي او د کورنۍ د ساتنې پیټی ورله غاړې شویدي. هغه موټرچلونکي، چې لاس او پښې یې پرې شویدي نشي کولی، چې د خپلې کورنۍ لپاره نفقه ومومي. هغه کس، چې بازار ته د خپلو ماشومانو لپاره د خوراکي توکی د رانیولو لپاره تللی، د بیرته راګرځیدو پرمهال د خپلوماشومان بې روحه جسدونه ویني، هغه چې پښه او ملا یې ماته شوې کورنۍ یې نشي کولی، د مالي توان د نه لرلو له کبله د هغه درملنه وکړي، هغه پلرونه او میندې، چې د خپل ځوی د بدن پاتې ټوټې یې په پلاستیکي کڅوړه کې راټولې کړې ... یوازې په تیرو شپږو میاشتو کې لږ ترلږه ۵،۱۶۶ دغه ډول پیښې رامنځ ته شویدي، چې یوپردریمه وژل شوي او ټپیان یې ماشومان دي ، چې په خاص ډول خبرداری ورکونکي او د شرم وړ دي" .

زید زیاته کړه: "هغه تاوتریخوالی چې په دغه رپوټ کې په ښکاره ورته اشاره شوې ، له بشري حقونو څخه یولړ بالقوه سرغړونې شته دي، چې له افغانستان څخه ترمدیترانې او ترهغه ورها خوا یې پراخوالی موندلی او ډیرافغانان د جدي خطرونو په منلو سره په بهرکې د پناه غوښتلو په لټه کې دي." هغه زیاته کړه: " د جګړې ښکیلې غاړې باید په قصدي ډول د ملکي وګړو وژنه او د

ملکي خلکو د اوسیدو په سیمو کې د درنو وسلو کارونه بنده کړي. دارنګه بې توپیره باید د هغو کسانولپاره، چې د ملکیانود وژنې مسوول دي معافیت پای ته ورسول شي ."

په داسې حال کې چې د حکومت مخالفین لاهم د ډیرو ملکي تلفاتو (۶۰٪) تلفاتو مسوول دي، خود حکومت پلوو ځواکونو لخوا د ملکي تلفاتو په کچه کې د همدې کال دجنورۍ له لومړۍ د جون تر وروستی نیټې پورې لوړوالی راغلی دی. د یوناما د همدې رپوټ پراساس په دغه موده کې دحکومت پلوو ځواکونو لخوا ۱۱۸۰ تنو ته مرګ ژوبله اوښتې، چې د ټولو تلفاتو ۲۳ په سلو کې جوړوي او د تیرکال د همدې مودې پرتله ۴۷ په سلو کې زیاتوالی پکې ښکاري، چې لومړنی لامل يې په ځمکنیو جګړو کې ددوی ښکیلتیا بلل کیږي .

لاهم ځمکنی نښتې د ملکي تلفاتو د لوړې برخې اصلي لامل بلل کیږي. ورپسې ځانمرګي او پیچلي ډله ییزبریدونه او ځای پرځای شوي چاودیدونکي توکي راځي. د ۸۵ په سلو کې وژل شویو او ټپي شویو ماشومانولامل د جګړې ناچاوده توکي دي، او په دې رپوټ کې داسې پیښې ثبت شویدي، چې یو زیات شمیرماشومان له دغه ډول توکو سره د لوبو کولوله کبله وژل شوي او ټپیان شویدي. په یوه پیښه کې، چې په دغه رپوټ کې مستنده شوې، د اپریل په ۱۳ مه نیټه "ماشومانو د هاوان یوه سرګلوله پرپاخه سړک ددې لپاره وغورځوله چې ایسکریم پرې واخلي، خو چاودنه یې وکړه" .

په دغه موده کې، چې په رپوټ کې تر پوښښ لاندې راغلې ۱۵۷،۹۸۷ زره افغانان نوي له خپلو سیمو بیځایه شویدي، چې د تیرکال همدې مودې پرتله ۱۰ په سلو کې زیاتوالی پکې راغلی دی. په دې سره د جګړو له کبله د ټولو کورنیو بیځایه شویو افغانانوتخمیني شمیر۱،۲ میلیونه کسانو ته رسیږي .

رپوټ همدارنګه یوشمیرنورې جدي بشري سرغړونې هم ثبتې کړيدي، چې په عامه ځایونو کې په قصدي ډول د ښځوپه نښه کول او وژل، په وسله والو جګړو کې د ماشومانو کارول، پرنجونو او هلکانو جنسي تیری، په ښوونیزو او روغتیایي مرکزونو بریدونه، یرغمل کول او اعدامول هم پکې شامل دي. د بشري حقونو په مدافعینو، ژورنالیستانو، حقوقي کارکونکو او قاضیانو هم بریدونه شویدي، او په ځینوپیښو کې دوی هم د طالبانولخوا" نظامي موخې" ګڼل شویدي. په یوه ځانمرګي برید کې، چې د رسنیو په وړاندې د جنورۍ په ۲۰ مه نیټه ترسره شو، د طلوع تلویزیون اوه کارکونکي د اتو وژل شویوملکیانو په ډله کې ووژل شواو۳۰ نور پکې ټپیان شول .

په دغه رپوټ کې دارنګه د تیرکال په اکتوبرمیاشت کې په کندوز کې د بې پولې ډاکټرانو (MSF) پرروغتون د هوایي برید د پلټنو پایلو ته هم اشاره شوې او ټینګار شوی، چې د هغې پیښې "بشپړوخپلواکو، بې پرې، روښانه او اغیزمنو پلټنو ته اړتیاده چې ممکنه جرمي ښکیلتیا اړخونه یې تشخیص شي ."

دې رپوټ د بشري حقونو ټولوسرغړونو ته د ځواب ورکولو او عدالت ټینګیدو اړتیا روښانه کړې او ټینګاریې کړی، چې په هیواد کې د سواد ټیټې کچې ته په کتو سره باید قربانیان او د هغوی د کورنی غړي مجبوره نه وي، چې د بشري حقونو د سرغړونو په اړه د پلټنو د ترسره کولو په موخه چارواکو ته په لیکلي ډول شکایتونه وړاندې کړي .

یاماموتو او زید دواړو په دې ټینګار وکړ، چې دغه مرګ ژوبله پرافغان ولس دتحمیل شوي پراخې وسله والې شخړې د یوې برخې تصویروړاندې کوي او نه دی توانیدلی، چې د جګړې ټول زیانونه او محدودیتونه په ډاګه کړي .

د یوناما مشریاماموتو وویل:" اوږدمهالو جګړو له اوږدې مودې راهیسې، روغتیایي او ښوونیزو مرکزونو، معیشت او سرپناه، د تګ راتګ ازادیو اوپه لویه کې مدني، سیاسي، اقتصادي او اجتماعي او کلتوري حقونو ته لاس رسی د میلیونونو افغانانو ته لپاره له ننګونو سره مخامخ کړیدی " .

***


ټول ملکي تلفات جنوري - جون ۲۰۰۹ - ۲۰۱۶
4000
3000
2000
1000
0
1052
1440
1281
1990
1575
2341
1159
1979
1344
2577
1686
3208
1615
3367
1601
3565
2009
2010
2011
2012
2013
2014
2015
2016
Deaths
Injured


په جګړې کې د ښکیلو ډلو د لوري د جنوری څخه تر ۳۰ جون ۲۰۱۶ کال پورې ملکي مرګ ژوبله
د جګړې ناچاوده پاتې شوني مواد ۴٪
د حکومت پلوو او حکومت مخالفو ځواکونو ترمنځ ګډو جګړو کې ۱۳٪
حکومت مخالف عناصر ۶۰٪
حکومت پلوې ځواکونه ۲۳٪


د ۲۰۱۶ کال له جنوری تر ۳۰ جون پورې د تاکتیک او پیښو د ځرنګوالي په اساس ملکي مرګ ژوبله
هوايي عملیات ۳٪
نور ۵٪
قصدي او هدفي وژنې ۱۱٪
دجګړو ناچاوده توکي۶٪
ځانمرګي او پیچلې بریدونه ۲۰٪
ځمکنی جګړې ۳۷٪
ځای پرځای شوي چاودیدونکي توکي ۱۷٪